Civil Society & Human Rights Network (CSHRN)

# ښځې او سوله

# د ويرې او هيلو

## ترمېنځ

د مدني ټولنې او د بشري حقونو شبکې د څېړنې ګروپ

## د مدني ټولنې او بشري حقونو شبکه

پته: کور نمبر ٦٠، واټ ۴، دریمهکارته، کابل-افغانستان

د اړیکې شمیره: ۹۳۷۹۹۷۹+

برېښنالیک: info@cshrn.af

ویب پاڼه: www.cshrn.af


---

# ښځې او سوله د ویرې او هیلو په مینځ کې


لیکوال: عبدالرحمن یاسا

ژباړن: فرهاد صافی

ډیزاین: روح الله رګبار

چاپځی:احمدي مطبعه

چاپ: اول

ګڼه: ۱۰۰۰

نیټه: ډسامبر ۲۰۲۰



د دغه کتاب د چاپ حق محفوظ دی.

# د مدني ټولنې او بشري حقونو شبکه

# او

# د بشر د حقونو او د تاوتریخوالي د لهمنځه وړلو موسسه

# د مطالبو لړلیک


**منته**........................................................................................................................................ ۱

**لنډیز**........................................................................................................................................ ۲

**موخه** ........................................................................................................................................ ۳

**مقدمه**........................................................................................................................................ ٤

**لومړۍ څپرکی: د طالبانو او له هغه وروسته د حکومت پرمهال ښځې**.......................................................... ٦

**د طالبانو حکومت په دوران کې وضعیت** ...................................................................................... ٦

**له ۲۰۰۱ کال وروسته لاسته راوړنې** .............................................................................................. ٦

***د سیاست په برخه کې افغان ښځې***.................................................................................................... ۷

***د اقتصاد په برخه کې افغان ښځې***.................................................................................................. ۷

***د ښوونې او روزنې په برخه کې افغان ښځې*** ..................................................................................... ۸

**دویم څپرکی: د افغانستان د سولې خبرې او د ملګروملتونو د امنیت شورا ۱۳۲۵ پرېکړه‌لیک**.................................. ۹

**د ملګروملتونو د ۱۳۲۵ پرېکړه‌لیک ته په پام د سولې په ټینګښت کې د ښځو رول** ........................................... ۹

**د امریکا متحده ایالتونو او طالبانو ترمنځ د اوربند هوکړه**........................................................................ ۱۰

**دوحه کې د سولې بین‌الافغاني خبرې** ............................................................................................ ۱۱

**درېیم څپرکی: د افغان ښځو پر لیدلوري تمرکز کول** .............................................................................. ۱۲

**د سولې بهیر د افغان ښځو لپاره څه مانا لري؟** .................................................................................. ۱۲

**د پای خبره**.................................................................................................................................. ۱۹

منابع ........................................................................................................................................... ۲۱

## مننه

په داسې حال کې چې په دوحه کې د سولې بین الافغانی خبرې دوام لري، د طالبانو لخوا د تاوتریخوالیو ډېریدو پر څنډې ته شویو ډلو په ځانګړې توګه پر مېرمنو د افغانستان دولت او طالبانو تر مینځ د احتمالي هوکړې د منفي پایلو د اغیزو په اړه یولړ اندیښنې رامینځته کړي دي. اوسمهال ډېری ښځینه فعالانې اندیښنه لري چې د هغوې لاسته راوړنې په ځانګړې توګه د بشري حقونو په برخه کې لاسته راوړنې به هیرې شي او یا به له طالبانو سره په مذاکراتو کې پرې معامله وشي.

دې موضوع ته په پام سره، د «ښځې او سوله د ویرې او هیلو په مینځ کې» پروګرام طرحه شو څو د سولې په اړه یو ښځینه روایت چې د مېرمنو د لیدلوري، هیلو او اندیښنو څرګندونه کوي رامینځته شي. د دې ترڅنګ د یاد پروګرام بل هدف د ښځو د لاسته راوړنو خوندي کیدل او د سولې د بهیر په پړاونو کې د ښځو د پراخ ګډون رابرسیره کول دي. له دې امله د مدني ټولنې او بشري حقونو شبکې (CSHRN) په بیلا بیلو برخو کې له ۱۰۰ فعالو نارینه او ښځو سره د مرکې په ترسره کولو سره هڅه کړې څو د سولې په خبرو کې د ښځو څخه د ملاتړ څرنګوالي، عدالت غوښتنې او د میرمنو د لاسته راوړنو خوندي کیدو لپاره د هغوی نظرونه بیان کړو.

یادې شوې مصاحبې د سولې ټینګښت په برخه کې د خلکو د پوهاوي د کچې د لوړولو په موخه د کابل او ولایتونو په دریو مطرحو ورځپاڼو کې چاپ او خپاره شول. پر دې سربېره مدني ټولنې او بشري حقونو شبکې عادي وګړو ته چې د ژوند په بیلابیلو برخو کې تر نورو ډېر اغیزمن کیږي هم رجوع کړې ده څو هغوی هم د سولې په اړه د نظر ورکولو او اندیښنې څرګندولو فرصت ولري. په پایله کې له عامو خلکو او فعالانو ۳٦٥ پیغامونه را غونډ شول چې دا پیغامونه د مدني ټولنې او بشري حقونو شبکې او د بشر د حقونو او تاوتریخوالیو د مخنیوي موسسې د ویبسایتونو اود دغو دوه بنسټونو اړوند ټولنیزو پاڼو له لارې په پراخه کچه خپاره شول.

په داسې حال کې چې د سولې په بین الافغانی خبرو کې د بشري حقونو ارزښتونه، د ښځو سیاسي او ټولنیز حقونه او د رسنیو د بیان آزادي باید خوندي شي، د مدني ټولنې او بشري حقونو شبکه به له دغو مذاکراتو په ټینګه ملاتړ او ستاینه وکړي. سربېره پر دې مور د مدني ټولنې او بشري حقونو په شبکه تر اوسه هم د افغانستان د دولت په مرکچي پلاوي په ترکیب کې د ښځو د کم رنګه حضور او د طالبانو د ډلې لخوا د تاوتریخوالیو د ډیریدو په اړه اندیښنه لرو. زه د بشري حقونو د مدافع په توګه په جګړه کې له ټولو ښکیلو لوریو غواړم چې د خلکو غوښتنو له هغې ډلې سراسري بیړني اوربند ته لومړیتوب ورکړي. د وګړو غوښتنو ته لومړیتوب ورکول نه یواځې خلک د سولې د بهیر ټولشموله کیدو په اړه هیله مند کوي بلکې ښکیلو لوریو سره هم مرسته کوي څو د جګړې پایته رسیدو او یوې سیاسي حل لارې ته د رسیدو لاره پیدا کړي.

زه د مدني ټولنې او بشري حقونو شبکې او د بشر د حقونو او تاوتریخوالیو د له مینځته وړو موسسې په استازیتوب په افغانستان کې د سویدن د نړیوالې پراختیا د همکاریو له ماموریت (SIDA) څخه د دغه کتاب د جوړیدو او چاپ له ملاتړه مننه وکړم. همداراز په دې برخه کې د کتاب له لیکونکي عبدالرحمن یاسا، د پروګرامونو له مدیرې آغلې حسنیه محقق، مالي مدیر حضرت خان هوشمند، روح الله رګبار، نجیب الله حسیني، فرشتې حکیمي، جواد حمیدي، طه محقق او فرهاد صافي څخه مننه کوم چې د همغږی او مصاحبو په ترسره کولو او د پیغامونو په ثبتولو او راغونډولو کې مهمه ونډه لرلې ده. په پای کې له ټولو هغو کسانو ځانګړې مننه کوم چې د مرکو او پیغامونو له لارې خپل نظرونه له مدني ټولنې او بشري حقونو شبکې سره شریک کړي دي.

سید حسین انوش

د مدني ټولنې او بشري حقونو د شبکې اجرایي رییس

**لنډيز**

د سولې بين‌الافغاني خبرو، د افغانستان څنګ ته شوې ډلې، په ځانګړې توګه ښځې له وېرې او هيلو سره مخ کړې دي. له شاوخوا دوو لسيزو وسله‌والو نښتو وروسته، د ۲۰۲۰ کال د سپټمبر مياشتې لومړيو کې د قطر پلازمينې دوحې کې د افغان دولت او طالبانو ترمنځ د سولې خبرې پيل شوې، خو د طالبانو له خوا د تاوتريخوالي دوام لامل شوی، چې عام خلک د سولې راوستو لپاره د دغې ډلې په واقعي ارادې بې‌باوره شي. د سولې خبرو اصلي لامل، هېواد کې د تېرو څو لسيزو جګړو او تاوتريخوالي پايته رسول او د ګټلو ـ ګټلو سياسي هوکړې ته رسېدل دي. دا داسې مهال دی چې د ټولنې ښېلا ښېلو برخو څخه زياترې ښځې، د داسې هوکړې له پايلو څخه اندېښنه ښيي، چې په کې خطر سره د تېرو کلونو د لاسته راوړنو او د هغوی د حقونو مخ کېدو احتمال شته. د طالبانو د حکومت پرمهال ژوند کولو څخه د افغان ښځو ترخو خاطرو، هغوی سره يو موټې کړي، ترڅو په ګډه مختلفو برخو کې د خپلو حقونو او لاسته راوړنو خونديتوب لپاره غږ پورته کړي؛ له دې کبله، د ښځو د حقونو فعالې او نور کسان چې د ټولنې مختلفو برخو کې فعاليت کوي، له دولت او د افغانستان د سولې مرکه‌چي ټيم څخه غواړي، ترڅو د ښځو ليدلورو او غوښتنو ته د سولې خبرو په اصلي اجنډا کې ځای ورکړي. د دې ترڅنګ، د سولې بهير د ټول شموليت تضمين لپاره، هغوی طالبانو سره د سولې خبرو ټولو برخو کې د خپل مانااداره او پياوړي استازيتوب غوښتونکي دي. د سولې بهير کې ښځو څخه کمزوری استازيتوب، نه يوازې د دغه بهير مشورعيت تر پوښتنې لاندې راولي، بلکې د تاوتريخوالي د دوام لامل هم کيږي. هرڅومره چې د سولې بهير پراخ بنسټه وي، په هماغه اندازه به يې دوام زيات ووسي.

## موخه

دغه کتاب د افغانستان سولې په اړه د افغان ښځو لیدلورو، هیلو او اندېښنو ته انعکاس ورکوي او د سولې خبرو ځینې ننګونې او د ښځو پر ژوند یې اغېزې، چې هېواد کې د تېرو څو لسیزو نښتو اصلي قرباني ورکونکې دي، مشخصوي. د دغه کتاب بنسټ د ملګروملتونو د امنیت شورا د ۱۳۲۵ پرېکړه‌لیک دی، چې په کې د سولې ټینګښت، د شخړو حل کې د ښځو پر رول او د یوې هراړخیزې او تلپاتې سولې تامین لپاره د هغوی د لیدلورو شمولیت ته پر ضرورت ټینګار شوی دی.

**مقدمه**

د سولې ټینګښت او د شخړو حل او مخنیوي کې د ښځو پر مهم رول بیاځلې ټینګار، د سولې او امنیت ټینګښت او خوندیتوب لپاره ټولو هڅو کې د هغوی د بشپړ او برابر مشارک پر اهمیت ټینګار او د شخړو حل او مخنیوي په برخه کې پرېکړه نیونو کې د هغوی د رول اړتیا.

د ملګروملتونو سازمان د ۱۳۲۵ پرېکړه لیک (۲۰۰۰)

داسې حال کې چې افغانستان دغه هېواد کې د نښتو پایته رسولو لپاره یوه حساس پړاو کې دی، د سولې خبرو کې د ښځو مانادراه حضور په اړه ډېر کم څه اورېدل کیږي. د کار وړ او متخصصو ښځو په راتګ سره ټولنې تېرو اتلسو کلونو کې، د پام وړ بدلون کړی دی. دا داسې مهال دی چې ۲۰۰۱ کال کې کله چې د طالبانو حکومت سقوط وکړ، د ښځو پر وړاندې د هغوی په لیدلورو کې هغسې چې اړین دی، بدلون نه دی راغلی. که افغان دولت او نړیواله ټولنه د ښځو د حقونو خوندیتوب په برخه کې جدي ګامونه پورته نه کړي، د افغانانو لپاره به د سولې هوکړه‌لیک، ټول‌شموله او د منلو وړ نه وي او دوام به هم ونه‌کړي. افغان دولت باید ډاډ ترلاسه کړي، چې طالبانو سره د سولې خبرو کې، د بشري حقوقو لاسته راوړنې خطر سره نه مخ کیږي.

طالبانو ۱۹۹۶ کال کې د واک له ترلاسه کولو وروسته، له اسلامي شریعت څخه د ناسم برداشت له مخې، د افغانستان پر خلکو سخت او له ظلم ډک شرایط تحمیل کړي دي. د دغې ډلې د حکومت پرمهال، افغانستان د نړۍ په کچه د بشري حقونو تر ټولو بد شرایط تجربه کړل. طالبانو د ټولنې ټولې برخې په سیستماتیک ډول وځپلې او ان د خلکو لومړني حقوق یې هم ورڅخه واخیستل. د طالبانو حکومت کې ښځو او نجونو له رواني اړخه ډېر زیان ولید، سنګسار شوې، پرې جنسي تیري وشول او خپلو کورونو کې بندیوانې شوې. طالبانو د ښځو پر وړاندې یو فاحشه جګړه په لاره اچولې وه؛ هغوی ښوونځي او پوهنتونونه د ښځو پرمخ وتړل او تقریباً ټولې ښځې یې اړ کړې، چې کارونه خوشې کړي، ان ځینو کورنیو خپلې نجونې داچې د طالبانو د ښځو ضد تګلارې څخه په امن کې وي، پاکستان او ایران ته واستولې.

د طالبانو کړنلاره کې د بدلون په تړاو د ځینو ادعاو سربېره، د دغې ډلې غړي اوس هم هماغه فکر لري، چې ۲۰۰۱ کال کې کله چې د دغه ډلې حکومت سقوط کاوه، درلود. د طالبانو ډله په افراطي توګه توندلارې ده او که چېرې امریکا افغانستان څخه ووځي، دغه ډله به یو ځل بیا له ځینو انساني حقوقو او ازادیو سره مخالفت وکړي او په ډېر احتمال سره د هېواد شاه‌تګ لپاره به هڅې وکړي. د مسکو غونډه کې د افغان ښځو له استازو سره د طالبانو چلند کېدی شي، د دغې ادعا تایید ووسي؛ دغه غونډه کې چې ۲۰۱۹ کال کې مسکو کې ترسره شوه، طالب استازو افغان

ښځې په هغه څه چې خپله یې «د اخلاقي فساد او بدحجابۍ ترویج» بولي تورنې کړې او پر هغوی[2] یې برید وکړ. دغه ډول موارد، د سولې بهیر پایلو په اړه د خلکو په ځانګړې توګه د ښځو د اندېښنو د زیاتېدو لاملونه دي. افغان ښځې او نجونې د وېرې او هیلو یو ګډ حالت کې ژوند کوي؛ سولې ته د رسېدو هیلې او طالبانو سره د خبرو پایله کې د هغوی د حقونو خطر سره د مخ کېدو وېره. د ملګروملتونو د پخواني سرمنشي کوفي‌عنان په خبره، «د ښځو د حقونو له احیا پرته، افغانستان کې واقعي سوله او ښه‌والی نه‌شي رامنځ ته کېدی.»

د سولې بهیر په تړاو اندېښنې دغه پوښتنه رامنځ ته کوي، چې د سولې له خبرو وروسته به د افغان ښځو ژوند څنګه کوي؟ د افغان ښځو او نجونو لپاره د یوې روښانه راتلونکې رامنځ ته کولو لپاره، د سولې بهیر کې باید هغوی څخه ښه‌استازیتوب وشي او د دې فرصت ولري، چې طالبانو ته په واضح ډول خپلې غوښتنې او لیدلوري مطرح کړي. دغسې یوه هدف ته د رسېدو لپاره ـ تر ډېره د ټولنې ټیټه سطحه کې ـ ښځې او نجونې باید باخبره او پیاوړې شي. غواړو دغه کتاب کې د سولې روان بهیر په تړاو د افغان ښځو او نجونو هیلې او اندېښنې منعکسې کړو او د هغه څه په مطابق چې د ملګروملتونو سازمان ۱۳۲۵ پرېکړه‌لیک کې راغلي، د سولې ټینګښت لپاره هڅو کې د ښځو او نجونو موثره ونډه اخیستل غښتلې کړو.

[1]Emma Graham Harrison and Akhtar Mohammad Mokoii, "The Taliban Took Years of My Life: The Afghan Women Living Under the Shadow of War," The Guardian, February 9, 2019, https://bit.ly/2MuNV7S.
[2]Amnesty International UK, "Women in Afghanistan: The Back Story," accessed November 24, 2014, https://bit.ly/3fyXCgh.

## لومړی څپرکی: د طالبانو او له هغه وروسته د حکومت پرمهال ښځې

### د طالبانو حکومت په دوران کې وضعیت

۱۹۹۰مه لسیزه کې د طالبانو د حکومت په اوږدو کې، ښځې او نجونې په ټولیز ډول سیاسي او ټولنیزو پروسو کې هر ډول مشارکت څخه محرومې شوې؛ هغوی د زده‌کړو، کار، ښوونځي ته د تلو او نورو فعالیتونو کې د ونډې اخیستو اجازه نه درلوده او اړې وې، چې کور کې پاتې شي. نه یوازې ښځې او نجونې خپلو کورونو کې زنداني کېدې، بلکې د کورونو کړکۍ به هم پوښل کېدې، ترڅو احتمالاً کورونو کې ښځې کوڅو کې تېرېدونکي کسان ونهویني. که به کومې ښځې یا نجلۍ د طالبانو دغې سخت‌دریځۍ څخه سرغړونه کوله، عام محضر کې به په دورو وهل کېده یا به هم اعدام شوه. نجونې به له وخت وړاندې واده کولو ته مجبوره کېدې، که به ښځو چادرې (برقه) نه وه په سر کړې وهل‌ټکول به یې خوړل او نارینه‌وو به هم د ږیرې خریلو په دلیل وهل‌ډبول خوړل. دغه قوانین اسلامي شریعت څخه د طالبانو خپل تفسیر په اساس طرح او اجرا کېدل [۳].

طالبانو ۲۰۰۱ کال کې د خپل حکومت له نړېدو یو څه وخت وروسته، بیرته فعالیت پیل کړ او له تاوتریخوالو ډکې او وحشي کړنې، په ځانګړې توګه د خپل تر کنټرول لاندې سیمو کې یې، عام محضر کې اعدام، سنګسار، وهل‌ټکول او د ښځو او نجونو د مدني حرکتونو بندیز له سره پیل کړ [۴]. دا د سخت‌دریځۍ او انحرأفي فعالیتونو ښکاره بېلګې دي، چې طالبانو له خوا اجرا کېدې.

### له ۲۰۰۱ کال وروسته لاسته راوړنې

د طالبانو له حکومت وروسته یوه تر ټولو مهمه لاسته راوړنه، عمومي برخه کې د ښځو پیاوړی راتګ دی. د افغانستان د (۲۰۰۴) کال اساسي قانون، د قانون پر وړاندې ښځې او نارینه برابرې بولي او سیاسي او اقتصادي مشارکت او ښوونې او روزنې ته لاسرسي کې جنسیتي برابري تضمینوي. د ښاریانو له برابرو حقونو څخه د نړیوالې ټولنې قانوني چوکاټ او ملاتړ، ښځو ته دغه امکان ورکړی، چې تېرو دوو لسیزو کې مختلفو ټولنیزو برخو کې مهم ګامونه اوچت کړي. دې سره، دغې مرحلې ته د رسېدو لاره، دومره اسانه او له ستونزو تشه هم نه وه. د ښځو د حقونو زیاتره

---

[۳] BBC, "Who Are the Taliban?" BBC, May 29, 2019, https://bbc.in/3mN6rFD.

[۴] Nick Schifrin, "Graphic Video of Fatal Stoning Shows Taliban's Strength," ABC News, January 27, 2011, https://abcn.ws/35WTAtr.

ملاتړو په ځانګړې توګه ښځو دغو حقونو او ازادیو ته د رسېدو لپاره ګرانه بیه ورکړې، ترڅو نسبت هغه محدودیت ته چې طالبانو د نجونو او ښځو پر وړاندې تحمیل کړی وو، خبرداری ورکړي. هغه فکري طرز چې ښځې او نجونې محدودوي، یوازې طالبانو او نورو وسلهوالو ډلو پورې نه اړوندیږي، بلکې حکومت کې نوره محافظهکاره ډلې هم شته، چې د نړیوالو له مرستو او د دیموکراسۍ له ګټو څخه په استفادې، د ښځو په تړاو طالبانو سره ورته نظر لري.

### *د سیاست په برخه کې افغان ښځې*

له تاریخي نظره، تېرو دوو لسیزو کې د سیاست په برخه کې د افغان ښځو حضور بېمخینې دی. له وزارتخونو څخه نیولې تر ولسي جرګې پورې هغوی مختلفو پستونو کې د مشرۍ چارې په غاړه لري. ۲۰۱۸ کال کې د افغانستان له پارلماني ټاکنو وروسته، ښځو وکولی شول د پارلمان له ۲۵۰ څوکیو څخه، ٦۹ څوکۍ خپلې کړي او اوس د هېواد د پارلمان ۲۸ سلنه جوړوي ، چې د نړۍ په کچه متوسط[5] حد څخه زیات دی. دا داسې مهال دی، چې د (۲۰۰۴) کال د افغانستان د اساسي قانون له مخې، کم له کمه د پارلمان ۲۵٪ استازي باید ښځې وي .[6]

د ملګروملتونو د ۱۳۲۵ پرېکړهلیک پر اساس، چې د سولې ټینګښت کې د ښځو پر مهم رول ټینګار کوي، افغان دولت امنیتي سکتورونو کې د ښځو رول پیاوړی کولو لپاره، د ۱۳۲۵ ملي عملي پلان په چوکاټ کې د ښځو د مشارکت ادغام پلان طرح او اجرا کړ چې پایله کې یې، د افغانستان د امنیتي او دفاعي ځواکونو په لیکو کې د ښځو مشارکت زیات شو. اوس د دې ترڅنګ چې د کورنیو چارو او دفاع وزارتونو په چوکاټ کې شاوخوا ۵۹۸۲ ښځې کار کوي، د دغو دوو وزارتونو د مرستیالانو پست کې هم ښځه کار کوي .[7]

### *د اقتصاد په برخه کې افغان ښځې*

تېرو دوو لسیزو کې افغان ښځو بېلا بېلو برخو په ځانګړې توګه د هېواد اقتصادي پرمختیا کې د پام وړ رول لوبولی دی. هغوی اوس مختلفو خصوصي او دولتي برخو کې کار کوي او د خپلې کورنۍ اړتیاوو پوره کولو ترڅنګ، د هېواد ټکنۍ اقتصاد سره هم مرسته کوي. د طالبانو د حکومت پر مهال، ټولنه کې د ښځو کار کول محدود وو، خو اوس د هېواد د کاري ځواک ۲۱ سلنه ښځې جوړوي، د شرکتونو خاوندانې او مدیرانې دي او د ډاکترې، ښوونکې، نرسې، وکیلې، کار رامنځ ته کونکې او سیاست کونکې په توګه کار کوي . افغان ښځې او نجونې تر بل[8] هر وخت زیات ټولنه کې حضور لري او مختلفو برخو کې له پارلمان څخه نیولې، تر هنري ډلو، د مدني ټولنې تر بنسټونو، سپورتي ډلو او نورو برخو کې په فعالیت سره، د هېواد اقتصادي ثبات سره مرسته کوي.

---

[5] The World Bank, "Proportion of Seats Held by Women in National Parliaments," The World Bank, 2020, https://bit.ly/35YgzV4.

[6] The Constitution of the Islamic Republic of Afghanistan," The Islamic Republic of Afghanistan, January 26, 2004, Article 83, https://bit.ly/2TS2z9N.

[7] US Department of Defense, "Enhancing Security and Stability in Afghanistan," Department of Defense, June 2020, p.41, https://bit.ly/3oWGGEA.

[8] The World Bank, "Labor Force, Female (% of Total Labor Force) – Afghanistan," The World Bank, 2020, https://bit.ly/3lnv4sd.

افغان دولت د نړیوالو سازمانونو په مخامخ ملاتړ، د هېواد په اقتصادي برخه کې د ښځو مانادراه او فعاله ونډې لپاره، سرچینو او فرصتونو ته په برابر ډول د ښځو او نجونو لاسرسي په موخه، پراخ پرگرامونه طرح او اجرا کړي دي. د مثال په توگه، له ۲۰۰۷ کال څخه تر ۲۰۱۷ کال پورې د افغان ښځو لپاره ملٔي پروگرام او همدارنگه د ملي پرمختیا ستراتیژي چې ۲۰۰۸ کال کې چمتو شوې، اقتصادي پرمختیا کې د[9] ښځو لپاره په برابرو فرصتونو او حقوقو ټینگار کوي.

دې سره، د ښځو د پرمختګ لاره، دومره هواره او اسانه هم نه وه. پخوانیو فرهنگي ـ ټولنیزو لوړو ژورو، چې تر ډېره نارینه‌پاله دي، د جنسیت پر بنسټ تبعیض، مذهب او پخوانیو رواجونو او ناامنیو ټولنه کې د ښځو حضور محدود کړی او د املاک او د کار مالکیت په اړه یې د هغوی حقوق له ننگونو سره مخ کړي دي.

***د ښوونې او روزنې په برخه کې افغان ښځې***

۱۹۹۰مه لسیزه کې د وسله‌والو نښتو پایله کې، د نورو مواردو ترڅنگ د ښوونې او روزنې برخې ته هم ډېر زیان ورسېده، خو له ۲۰۰۱ کال راهیسې هېواد کې ښوونې او روزنې د پام وړ پرمختگ کړی دی. دې برخه کې د ښوونې او روزنې اساس ته ځانگړی پام شوی او د نړیوالې ټولنې په ملاتړ د ټول هېواد په کچه میلیونونه نجونو او هلکانو د ښوونې او روزنې فرصتونو ته لاسرسی پیدا کړی دی.

د طالبانو له نظره د ښځو زده‌کړې (حرامې) دي او د طالبانو د حکومت پر مهال افغان ښځې او نجونې کورني بندې او هر ډول زده‌کړو څخه محرومې وې، خو د طالبانو د حکومت له سقوط وروسته، میلیونونه افغان نجونو د ښوونې او روزنې فرصت ترلاسه کړ او یو ځل بیا یې ښوونځي او پوهنتون ته د تلو اجازه ترلاسه کړه. د شمېرو له مخې، افغانستان کې د ښوونځیو شاوخوا ۴۰ سلنه زده‌کونکي نجونې دي . د دې ترڅنگ، له ۱۵ کلنۍ[11] څخه تر ۲۵ کلنۍ پورې د نجونو د باسوادۍ کچه ٥٦٪ سلنه زیاته شوې، چې ۲۰۱۲ کال ته په پرتله د پام وړ زیاتوالی ښیي. ١

سره له دې چې د جغرافیایي خنډونو په څېر، ټولنیز، اقتصادي او امنیتي محدودیتونه اوس هم د ښځو د زده‌کړو پر وړاندې یوه تلپاتې ننگونه ده، خو بیا هم ښځې او نجونې د دغو ننگونو پر وړاندې اودرېدلي او ډېر خطرونه یې په ځان گاللي، خو هېڅ کله یې هم پر خپلو هیلو او خوبونو سترگې نه دي پټې کړي . ٣

---

[9] Islamic Republic of Afghanistan, "National Action Plan for the Women of Afghanistan," The Government of Afghanistan, 2007-2017, p. 13, https://bit.ly/38ovZF6.
[10] Afghanistan Research Evaluation Unit, "Afghanistan National Development Strategy," AREU, https://bit.ly/2JP25zt.

[11] The World Bank, "School Enrollment, Secondary, Female (% gross)," World Bank Group, 2020, https://bit.ly/2UerVyW.
[12] According to UNICEF, the number of people age 15-**24 years who c**an both read and write with understanding a short simple statement on their everyday life, divided by the population in that age group.
[13] UNICEF, "Youth Literacy Rate for 15-2**4 Years," UNICEF, 2018, https://bit.ly/3nehs2X.**

## دویم څپرکی: د افغانستان د سولې خبرې او د ملګروملتونو د امنیت شورا ۱۳۲۵ پرېکړه‌لیک

### د ملګروملتونو د ۱۳۲۵ پرېکړه‌لیک ته په پام د سولې په ټینګښت کې د ښځو رول

د ملګروملتونو د امنیت شورا ۱۳۲۵ پرېکړه چې د ښځو، سولې او امنیت په اړه دی، د ۲۰۰۰م کال د اکتوبر په ۳۱مه تصویب کړ. دغه پرېکړه لیک، د شخړو مخنیوي او حل، د سولې خبرو، د سولې ټینګښت، تلپاتې سولې، بشردوستانه کارونو او له جګړې وروسته بیارغونه کې د ښځو پر مهم رول ټینګار کوي. همدارنګه، یاد پرېکړه‌لیک تر شخړې لاندې سیمو کې د امنیت او سولې ټینګښت او پیاوړي کولو لپاره، ټولو هڅو کې د ښځو د بشپړ مشارکت او جنسیتي برابر پر اهمیت ټینګار کوي.

د دې ترڅنګ، د امنیت شورا ۱۳۲۵ پرېکړه‌لیک له ټولو غړو هېوادونو غواړي، ترڅو د سولې ټینګښت او د امنیت تامین لپاره د ملګروملتونو تر نظر لاندې ټولو ترسره کېدونکو هڅو کې د ښځو لیدلورو ته د یوه اصل په توګه وګوري. دغه پرېکړه‌لیک کې د شخړې له ټولو ښکېلو خواوو غوښتل شوي، چې د جنسي تیري او نورو مواردو په څېر د جنسي تاوتریخوالي پر وړاندې له ښځو او نجونو څخه د محافظت لپاره، اړین ګامونه اوچت کړي. یاد پرېکړه‌لیک کې غړو دولتونو ته ویل شوي، چې خپل ملي پلانونه د دغه پرېکړه‌لیک د لارښوونو په اساس طرحه کړي ٤ . لکه څنګه چې ښځې او نجونې د جګړې او تاوتریخوالي رامنځ ته کولو کې هېڅ رول نه‌لري خو بیا هم د وسله‌والو نښتو اصلي قرباني ورکونکې دي، د ۱۳۲۵ پرېکړه‌لیک د هر ډول تاوتریخوالي پر وړاندې له ښځو او نجونو څخه محافظت لپاره د یوه میکانیزم د رامنځ ته کولو پر اړتیا ټینګار کوي.

د ځینو څېړنو پایلې ښیي، چې د سولې بهیر کې د ښځو ګډون د شخړو حل لپاره د هڅو د بریا کچه لوړه‌وي. د دغو څېړنو په اساس، کومو مواردو کې چې ښځو د خبرو پر بهیر ډېر تاثیر درلودلی، وروستۍ هوکړې ته د لاسرسي احتمال تر هغو مواردو ډېر دی ، چې په کې د ښځو تاثیر اُو ګډون کمزوری دی. د سولې٥ بهیر کې د ښځو د رول زیاتېدل، د سولې تلپاتې‌والی زیاتوي، البته د سولې بهیر کې د ښځو ګډون په دې مانا نه دی، چې هغوی دې په

---

٤The United Nations Security Council, "Resolution 1325 (2000)," UN Security Council, October 31, 2000, https://bit.ly/35zX0DG.

٥Thania Paffenholz, Nick Ross, Steven Dixon, Anna-Lena Schluchter, and Jacqui True, "Making Women Count – not Just Counting Women: Assessing Women's Inclusion and Influence on Peace Negotiations," The Graduate Institute of International and Development Studies, April 2016, https://bit.ly/3pBSCvY.

مخامخ توګه د سولې مذاکراتو کې حضور ولري، بلکې کېدی شي دغه ګډون کې بېلا بېل پړاوونه په ځانګړې توګه، له خبرو وړاندې، د خبرو پرمهال او د سولې له هوکړې وروسته د هوکړهلیک تطبیق، شامل ووسي.

زیاتره وختونو کې د سولې هوکړې ته لاسرسي کې د ښځو مهم رول ته جدي فکر نه کیږي، چې دا د سولې خبرو کې د ښځو مانادراه حضور څخه ناسم درک پورې تړو لري. زیاتره مواردو کې د سولې خبرې او بهیرونه د څېړنیزو موندونو پر اساس نه، بلکې د نهازمایل شوو فرضیو پر اساس یا شخصي لورو نیونو پر اساس مخ ته وړل کیږي. دې سره، د شمېرو تحلیل او تجزیه ښیي چې د ښځو مانادراه ګډون د سولې هوکړهلیکونو پر بریا او تلپاتېوالي مثبت اغېز لري. د یوې څېړنې له مخې، د سولې ۱۸۲ هوکړهلیکونو له ډلې څخه چې د ۱۹۸۹ او ۲۰۱۱ کلونو ترمنځ لاسلیک شوي، کومې هوکړې چې ښځې په کې ګډون لري، ۳۵سلنه زیات تر پنځلسو کلونو د ډېر دوام احتمال یې درلودلی[۱۷]؛ له دې امله، د تلپاتېوالي لپاره د سولې یوه هوکړه باید ټولشموله ووسي او د ټولو خلکو په ځانګړې توګه د ښځو هیلو ته انعکاس ورکړي.

## د امریکا متحده ایالتونو او طالبانو ترمنځ د اوربند هوکړه

د امریکا متحده ایالتونو د ۲۰۲۰ کال لومړیو کې افغانستان کې د خپلې اوږدې جګړې پایته رسولو په موخه، طالبانو سره د سولې هوکړهلیک لاسلیک کړ. د دغه هوکړهلیک له مخې امریکا باید د هوکړې له لاسلیک ۱۴ میاشتې وروسته خپل سرتیري له افغانستان څخه بهر کړي او طالبان به یې په مقابل کې د تلپاتې اوربند او سولې په اړه افغان دولت سره خبرې کوي[۱۸]، البته افغانستان څخه د ټولو امریکایي ځواکونو وتل په دې پورې تړاو لري، چې طالبان به خپلې ژمنې عملي کوي او له القاعدې او نورو تروریستي شبکو سره به خپلې اړیکې پرې کوي؛ ترڅو ډاډ ترلاسه شي، چې نور به افغانستان څخه هېڅ کله هم د نړیوالو تروریستانو مرکز په توګه استفاده نه کیږي.

وروسته له هغې چې د امریکا پخواني ولسمشر جورج ډبلیو بوش د سپټمبر د یوولسمې برید په ځواب کې د امریکا په مشرۍ افغناستان کې د نظامي لاسوهنې امر صادر کړ، د طالبانو حکومت ونړول شو او د القاعدې پیاوړي نظامي خپل نومبدي مشر اسامهبنالادن سره د پاکستان پولو خوا ته وتښتېده. نړیوالې ټولنې له هغې وروسته افغانستان کې د لیبرال دولت جوړولو الګو پر اساس د دولت جوړونې بهیرونه پیل کړل، خو له څو کلونو ثبات وروسته، طالبانو وکولی شول ځانونه بیرته تجدید او وخوځوي او د افغانستان په کلیو او بانډو کې لویې سیمې تر خپل کنټرول لاندې راولي.

---

[۱۷] Marie O'Reilly, Andrea O' Suilleabhain, and Thania Paffenholz, "Reimagining Peacemaking: Women's Roles in Peace Processes," International Peace Institute, June 2015, p.12, https://bit.ly/2ILxhiE.

[۱۸] Sara Dadouch, Susannah George, and Dan Lamothe, "U.S. Signs Peace Deal with Taliban Agreeing to Full Withdrawal of American Troops from Afghanistan," The Washington Post, February 29, 2020, https://wapo.st/3lUCL9z.

دې سره، له څو کلونو ثبات وروسته طالبان بریالي شول چې بیرته سازمان‌دهي وکړي او اوس پراخې کلیوالي سیمې تر کنټرول لاندې لري. سره له دې چې له جګړې ستړي زیاتره افغانان په ځانګړې توګه ښځې او نجونې چې د دوامداره جګړې اصلي قرباني ورکونکې دي، د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې هوکړې ته د شک په سترګه ګوري او د طالبانو تر کنټرول لاندې بیا ځینې څخه ویریږي. ۱۹۹۰مه لسیزه کې طالبانو ټول په خاصه توګه افغان ښځې او نجونې د سخت‌دریځه قانون له مخې چې شریعت پورې یې تړي، وځپلې. له هغې وروسته، د ښځو د حقونو تضمین هېواد کې د ښځو د ملاتړو بنسټونو په مهمې غوښتنې بدل شو، چې ښځې او نجونې اوس هم خپلو اساسي حقونو ته د لاسرسي لپاره هڅه کوي.

## دوحه کې د سولې بین‌الافغاني خبرې

د امریکا او طالبانو ترمنځ له هوکړې څو میاشتې وروسته، د سولې بین‌الافغاني خبرې د ۲۰۲۰ کال د سپټمبر میاشتې په ۱۲مه د قطر پلازمینه دوحه کې پیل شوې. د افغان دولت او طالبانو استازي دوحه کې سره را غونډ شول، ترڅو افغانستان کې د دایمي او جامع اوربند په اړه خبرې وکړي. که څه هم د دواړو خواوو مرکه‌چي پلاوو تراوسه رسماً [۱] مخامخ خبرې نه‌دي پیل کړي، خو د تماس ډلو د سولې هوکړې په تړاو د مقدمې په اړه خبرې کړي دي.

دې سره، دې وروستیو کې د یو لړ دلایلو له امله د سولې خبرې ځنډول شوې. یو موارد هم د افغانستان اساسي قانون پر سر اختلافونه دي، چې د طالبانو دله یې غیراسلامي بولي. بل دلیل هم د مذاکراتو د اساس په توګه د یوې مشخصې اسلامي فقې په اړه د طالبانو انعطاف‌نه‌منونکی دریخ دی؛ هغوی ټینګار کوي، چې د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې هوکړې ترڅنګ دې، حنفي فقه هم د بین‌الافغاني خبرو د بنسټ په توګه ومنل شي.

که څه هم د افغانستان زیاتره مسلمانان د حنفي فقې پیروان دي، خو د طالبانو دغه دریځ د جعفري فقې میلیونونه شیعه مسلمانان او همدارنګه د سیکانو او هندوانو کوچنۍ ټولنه څنګ ته کوي. همداراز، طالبانو امریکا سره د سولې هوکړه کې د تاوتریخوالي کمولو ژمنه کړې وه، اوسنی بن‌بست تر یوه حده د تاوتریخوالي کمولو ته د دغې ډلې نه لېوالتیا یا ناتواني ده. طالبان د تاوتریخوالي په زیاتولو سره یا خو غواړي دوحه کې د خبرو مېز کې پر مقابل لوري ډېر فشار وارد کړي، یا دا چې پر خپلو جنګیالیو بشپړ واک نه لري. په هرصورت، د سولې مذاکراتو کې د بن‌بست ماتېدو لپاره، ستونزمنه لار په مخ کې ده.

[۱] Wolfgang Minatti, "The Challenges of the Afghan Peace Talks," European University Institute, September 28, 2020, https://bit.ly/3kHLBpA.

## دربیم څپرکی: د افغان ښځو پر لیدلوري تمرکز کول

دغه برخه له ۱۰۰ مرکو او ۳۶۵ د سولې پیغامونو څخه د راټولو شوو مالوماتو مجموعه ده، چې د افغانستان د خلکو په ځانګړې توګه د ښځو لیدلورو ته انعکاس ورکوي. دغه مرکې او پیغامونه د ژوند کولو مختلفو برخو کې د بېلا بېلو قومونو له ښځو او نارینه‌وو سره شوي دي؛ دغه مرکې او د سولې پیغامونه تر ډېره د عادي هېوادوالو لیدلوري وړاندې کوي. له ښځو او نارینه‌وو سره د مرکې مجموعه چې د دغه اثر له چمتو کولو سره مرسته کړې ښیي، د سولې بهیر او د شخړو حل کې د جنسیت له اړخه انډولیز مشارکت نه یوازې، بېلابېل لیدلوري او ارزښتونه رامنځ ته کوي، بلکې د سولې بهیر پراخ‌بنست‌والی او تداوم هم تضمینوي.

### د سولې بهیر د افغان ښځو لپاره څه مانا لري؟

له ۲۰۰۱ کال وروسته پرمختیا کې د ښځو رول ته په پام، دوحه کې د سولې بین‌الافغاني خبرو د افغانستان د ټولو وګړو، په ځانګړې توګه د ښځو او نجونو لپاره، له وېرې او هیلو ګډ یو حالت رامنځ ته کړی دی. د ښځو او د عادي ښاریانو د حقونو زیاتره ډلې او ملاتړې اندېښنه لري، چې طالبانو سره د مذاکراتو په جریان کې به یې لاسته راوړنې له خطر سره مخ شي. هغوی په دې باور دي چې واک ته د طالبانو بیرته ګرځېدل، یا داسې یوه ناسنجول شوې معامله به چې دغې ډلې ته ډېر نفوذ او واک ورپه برخه کړي، د ځېلو یوې تیاره دورې بیرته راګرځېدو په مانا وي؛ داسې یو دوران چې ښځو او نجونو اجازه نه درلوده چې له کوره بهر شي، د وېښتانو ښکاره کېدو په دلیل به وهل‌ټکول کېدې او له کور څخه بهر د کار کولو یا ښوونځي او یا هم پوهنتون ته د تلو ممانعت سره مخ وې. سره له د چې ځینې په دې باور دي، چې ۲۰۰۱ کال کې د اسلامي امارت له نړېدو راهیسې د طالبانو لیدلوري کې تغییر راغلی، خو تېرو شلو کلونو کې د طالبانو تر کنټرول لاندې سیمو کې د ښځو او نجونو پر وړاندې د دغې ډلې سخت‌دریځه او محدودونکې کړنې ښیي، چې دغه ډله اوس هم هماغه پخوانی له تاوتریخوالي ډک او افراطي ذهنیت لري.

د مدني ټولنې فعالان او د ښځو د حقونو ملاتړي اوسمهال د سولې بهیر مختلفو پړاوونو کې له ښځو او نجونو څخه د مانادارە او پیاوړي استازیتوي غوښتونکي دي. که څه هم طالبانو ادعا کړې چې د ښځو حقونه به د اسلامي اصولو پر اساس تضمین کړي، خو دغه ټکي ته یې وضاحت نه دی ورکړی. دېته په پام چې طالبانو د خپلې واکمنۍ پرمهال د هغو قوانینو پراساس چې اسلام ته یې نسبت ورکوي کوم کارونه ترسره کړي، له وحشي‌ګرۍ او ځان غوښتنې او دښمنۍ پرته بل څه نه ښیي. سره له دې چې دوحه کې د ۲۰۲۰ کال په اوږدو کې د طالبانو او افغان دولت د مرکه‌چي

پلاوو د تماس ډلو ترمنځ مذاکرات شوي، خو د طالبانو د نه‌جوړجاړي ماهيت او د ټول هېواد په کچه د تاوتريخوالي زياتېدل، د ښځو راتلونکې او همدارنګه يوې سياسي حل‌لارې ته د رسېدو لپاره ليدلوری مبهم دی.

د تېرو څو کلونو جګړې پايته رسولو لپاره د سولې روانو بحثونو ته په پام، هېواد کې څنګ ته کړل شوې ډلې په ځانګړې توګه ښځې، نجونې او اقليت ډلې اندېښنه لري چې د طالبانو د احتمالي راتګ اغېزې او سياسي پايلې او د امريکا شاه‌تګ به د هغوی پر ژوند منفي اغېز وکړي. د دې ترڅنګ، هغوی تل ټينګار کړی چې حقوق يې بايد د «سرې کرښې» په توګه په پام کې ونيول شي، ترڅو هر ډول سياسي معاملې څخه خوندي شي.





لکه څنګه چې وويل شول، ټولنې په ځانګړې توګه ښځو د نړيوالې ټولنې په مخامخ ملاتړ ښېلا ښېلو برخو کې د پام وړ پرمختګ کړی دی. دې سره، د بشري حقونو زياتره فعالان د جګړې او د نښتو بيا تکرار څخه اندېښنه ښيي. متخصصې او کار رامنځ ته کونکې ښځې، سوداګرې مېرمنې، ښوونکې او وکيلانې په دې باور دي، چې که طالبانو سره «خرابه هوکړه» وشي، دوی نه‌شي کولی خپلو هيلو ته تحقق ورکړي. د هغوی په باور، د بشري حقونو په ځانګړې توګه د ښځو په اړه د طالبانو ليدلوري بدلون نه دی کړی او هره معامله به چې له مخې يې دغه ډله واک ته رسيږي، افغانستان د ۱۹۹۰مې لسيزې ته بوځي؛ کوم دوران چې ټولو سره په ځانګړې توګه ښځو سره ظلم او ستم کېده. د طالبانو د حکومتولۍ پرمهال ښځو حق نه‌درلوده، چې ټولنيزو چارو کې ونډه واخلي، يا له خپل کور څخه بهر قدم کېږدي، هغوی د زندانيانو په څېر وضعيت درلود، خو د طالبانو دورې له سقوط وروسته تراوسه د اساسي قانون په چوکاټ کې په ځانګړې توګه د بشري حقونو، ښوونې او روزنې، کار، روغتيايي خدمتونو او د بيان ازادۍ ته د لاسرسي په برخه کې د پام وړ پرمختګونه شوي دي.




له شریعت څخه د طالبانو مبهم برداشت ته په پام، دغې ډلې ډیموکراټیکو او د بشر حقونو ارزښتونو سره سخت مخالفت درلودلی دی. د ښځو یوه فعاله شریفه مهراد د دغې موضوع په تړاو ناهیلي ښي او وایي: «دیموکراسی سره د طالبانو نه‌جوړجاړی په دې مانا دی، چې دغه ډله د ښځو حقوق او د هغې سولې هوکړه چې پر اساس یې د تېرو شلو کلونو لاسته راوړنې خوندي پاتې شي، په رسمیت نه پېژني. طالبان غواړي چې ښځې په کورونو کې محدودې شي، یا هغوی د چادرۍ یا (برقې) اغوستو ته اړ لېواله کړي، چې دا له غلامۍ پرته بل څه نه دي. » ځینو مواردو [۹]
کې د طالبانو د تفکر بدلون په تړاو د ځینو د باورونو خلاف، د بشري حقونو فعالان په دې باور دي، چې د طالبانو تر کنټرول لاندې سیمو کې د ښځو بد وضعیت د دغه تصور خلاف په اثبات رسوي او طالبان اوس هم د ښځو ضد لیدلوری لري.

۹Sharifa Mehrad, women activist, in discussion with Hosnia Mohaqqiq, November 24, 2020.




اخوا طالبان د سولې خبرو د مذهبي بنسټ په توګه د حنفي فقې پر غوره کولو په ټینګار سره، په ښکاره توګه د یوې پراخ بنسټه او تلپاتې سیاسي هوکړې تحقق له ننګونو سره مخ کوي. طالبان ۱۹۹۰مه لسیزه کې د خپلې حکومتولۍ دورې په څېر، اوس هم په دې ټینګار کوي، چې د قومي او مذهبي اقلیتونو په ځانګړې توګه د شیعه او اسماعیلي مسلمانانو او د هندوانو او سیک اقلیتونو پر وړاندې تبعیض لري. زیاتره مرکه‌کېدونکو ویلي، چې د بریالیو خبرو او د تلپاتې سولې تحقق لپاره، د ښځو ترځنګ، د اقلیتونو، د جګړې قربانیانو او معلولیت لرونکو په څېر نورې ځنګ ته کړل شویو ډلو څخه هم باید د سولې بهیر ټولو پړاوونو کې استازیتوب وشي.





اوسمهال، د افغان دولت د مرکه‌چي ټیم ۲۱ غړیو څخه، څلور تنه (شاوخوا ۲۰سلنه) ښځې دي. که څه هم د سهمیه‌بندۍ سیستم د پام وړ پایلې تضمین نه کوي، خو افغان ښځو څخه باید د هغو نارینه همکارانو له خوا، چې مرکه‌چي ټیم کې حضور لري او د سولې په ټینګښت کې جنسیتي برابرۍ ته ژمن دي، ملاتړ وشي. که د سولې بهیر څخه موخه د تلپاتې سولې تحقق وي، نو ښځې باید د دغې پروسې ټولو پړاوونو کې فعاله او مانداره حضور ولري.
د افغان دولت د مرکه‌چي ټیم د یوه غړي ډاکټر محمد امین احمدي په خبره:



ښځې د جګړې اصلي قرباني ورکونکې په توګه باید د سولې خبرو کې مانااداره ګډون ولري او هغوی ته فرصت ورکړل شي، چې خپله خپلو حقونو او ارزښتونو څخه دفاع وکړي. دغې موخې ته د رسېدو لپاره باید یو ملاتړیز میکانیزم یا چوکاټ رامنځ ته شي؛ لومړی دا چې اړتیا نشته چې د سولې خبرو کې د جمهوري نظام او د اساسي قانون په چوکاټ کې د ښځو او نارینه‌وو لپاره د جنسیتي برابرۍ پر حق بحث وشي. دویم، افغان ښځو ته باید دا حق ورکړل شي، هغه موضوعات او مسایل چې د سولې خبرو کې مطرح کیږي او ممکن د هغوی پر ژوند منفي اغېز ولري، رد کړي. درېیم، د نړیوالې ټولنې مالي مرستې باید په دې پورې تړلي وي، چې د تېرو شلو کلونو لاسته راوړنوې، په ځانګړې توګه د بشري حقونو او نورو ډیموکراتیکو ارزښتونو څخه به ساتنه کیږي. بلاخره دا چې نړیواله ټولنه باید طالبان تر فشار لاندې راولي او دغه دله هم باید ډاډ ورکړي، چې یوې سیاسي هوکړې ته د رسېدو په صورت کې، په خپلو کړو ژمنو عمل کوي.




طالبان سره له دې چې د سولې بین‌الافغاني خبرو کې یو اصلي طرف دی، خو تل یې کابل کې د یوه منتخب دولت په رسمیت پېژندو او اوربند په اړه هوکړې څخه ډډه کړې‌ده. د مدني ټولنې زیاتره فعالان په دې باور دي، چې دغه ډول دوه ګونې لوبه نه یوازې د سولې خبرو دوام له ستونزو سره مخ کوي، بلکې د اوربند لپاره د پرېکړې نیونې په اړه د طالبانو واقعي ارادې او د هغوی خپلواکۍ په تړاو د وېرې لامل کیږي.




په واقعیت کې، د سولې بهیر کې پر اوربند هوکړه اغېز رامنځ ته کوي او د ښکېلو خواوو ترمنځ د باور فضا ته چې کلونه یې سره جګړې کړې، زمینه برابروي. د تاوتریخوالي زیاتېدل د سولې ټینګښت لپاره د هڅو په تړاو د خلکو ترمنځ ناهیلۍ ډېروي. د ۲۰۲۰ کال د مارچ میاشتې په ۲۳مه، کله چې د کوویډ ۱۹ ویروس د پراخېدو په حال کې وو، د ملګروملتونو سرمنشي د نړیوال اوربند غوښتنه وکړه، چې له هغې وروسته اروپایي ټولنې او چین هم دغه غږ بدرګه کړ. په همدې ترتیب افغان دولت له دغې غوښتنې هرکلی وکړ، خو طالبانو دغې غوښتنې ته له پام کولو پرته، خپلو بې‌رحمانه بریدونو ته دوام ورکړ. د زیاترو په باور، د تاوتریخوالي کمولو لپاره د طالبانو نه‌لېوالتیا، سره له دې چې د مذاکراتو مشروعیت تر پوښتنې لاندې راولي، بلکې په ښکاره توګه ښیي، چې دغه ډله د خلکو غوښتنې ته پام نه کوي. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون مشره شهرزاد اکبر په دې اړه وایي:

> «زه فکر کومه که د سولې خبرې تاوتریخوالي سره موازي مخ ته لاړې شي، ډېر ژر به بې‌مانا شي؛ نو، دواړه خواوې باید د سولې خبرو ته د جګړې لپاره د بدیلې لارې په توګه وګوري، که دغسې وشي طبیعي ده، چې ټول به ورسره موافق ووسي، کني نو، د سولې بهیر به مشروعیت ونه‌لري. له څه وخت راهیسې د افغانستان خلک پرته له دې چې دېته پام وکړي چې چرته ژوند کوي، په کومه ژبه خبرې کوي او په کوم دین باور لري، د اوربند غوښتنه یې کړې ده. امکان شته چې د اوربند له پامه غورځولو لپاره طالبان مختلف دلایل ولري؛ چې یو یې هم د دغې ډلې نه‌ځواب ورکول او خلکو سره د هغوی د مشروعیت له منځه تلل دي. اړتیا ده چې هر دولت او ډله عمومي لومړیتوبونو ته پام وکړي، ترڅو وکولی شي، د ټولو ملاتړ ترلاسه کړي.» ۲

---

[۲] Shahrzad Akbar, Chairperson for Afghanistan Independent Human Rights Commission, in discussion with Hosnia Mohaqqiq, September 12, 2020.

طالبان نه‌شي کولی د نښتو له لارې واک کې پاتې شي، هغوی باید شته واقعیتونه، رامنځ ته شوي بدلونونه او د افغانستان نړیوالې ژمنې درک کړي. اوسنۍ شخړه له داسې خبرو چې په کې د جنسیتي برابرۍ اصول رعایت شي، پرته بله هېڅ حل‌لاره نه‌لري. ښځې او نارینه باید د سولې بهیر ټولو اړخونو کې، د سولې له حفظ، اصلاحاتو او د سولې رامنځ ته کولو څخه نیولې، تر داسې سیاسي وضعیت پورې چې په کې وکولی شي، په سیاسي، اقتصادي او ټولنیزې پرمختیا کې په برابر ډول ونډه واخلي، رول ولوبوي. دا یوازینۍ لاره ده، چې د تلپاتې سولې هیلې زیاتوي.

## د پای خبره

د تېرو څو لسیزو په اوږدو کې د افغانستان وګړو، په ځانګړې توګه پر ښځو د جګړو سیورې خپور او دوی د ټولنې له بل هر چا ډېرې دردېدلي دي، په ۱۹۹۰مو کلونو کې مجاهدېنو او طالبانو پر افغان ښځو د ظلم کړۍ را تاوه کړې وه، په دغو ظلمونو کې له زورونې نیولې بیا تر تیري، وهل‌ډبول، سنګسار او په کورونو کې بندي کول شامل وو. د مجاهیدینو له ماتې وروسته، د طالبانو اسلامي امارت د دوی له لوري جوړ شوي شرعي قوانین اعلان کړل، چې په هغه کې ټول، په ځانګړې توګه ښځې له خپلو ټولو اساسي حقونو محرومې وې او ښوونځي او پوهنتون ته د تلو او ټولنیزو چارو کې د فعالیت اجازه یې نه درلوده.

په ۲۰۰۱ کال کې د طالبانو د رژیم له راپرځېدو وروسته، د افغانستان لپاره د یوې نوې راتلونکې ور پرانستل شو، د نورو مواردو ترڅنګ جنسټي برابري تایید شوه، البته تر ډېره په کلیمو کې نه په عمل کې. نوی اساسي قانون تدوین او تصویب شو، چې په کې د بشري حقونو نړیوالو اسنادو، په ځانګړې توګه د بشري حقونو نړیوالې اعلامیې څخه د پیروۍ لپاره د دولت ژمنې سره یو ځای د ژوند کولو ټولو برخو کې د ښځو مشارکت په رسمیت وپېژندل شو. له یوې دورې محدودیت وروسته، افغان ښځو دا فرصت پیدا کړ چې ښوونځي او پوهنتونو ته لاړې شي، او په ټولنیزو، سیاسي، اقتصادي برخو کې حضور پیدا کړي، ترڅو وکولی شي، د هېواد پاشلي اقتصاد او ثبات کې مرسته وکړي.

په همدې حال کې، له شوو پرمختګونو سربېره، ښځې لاهم د خپلو حقونو د ترلاسه کولو په هڅه کې دي، د بهرنیو ځواکونو وتلو او د امنیتي وضعیت خرابېدو سره هم‌مهاله، تاوتریخوالی، د بشر حقونو نقض او د ښځو په وړاندې ګواښونه په کم‌ساري توګه ډېر شول او طالبانو له نورو ترهګریزو ډلو سره یو ځای، ښارونو کې د پراختیایي چارو ورانولو او د خلکو، ښځو او کوچنیانو د وژلو هڅې پیل کړي دي.

افغان دولت د تاوتریخوالي پایته رسولو لپاره، د نړیوالې ټولنې په ملاتړ، د ملي او نړیوالو پروګرامونو په سرلوحو سره د سولې خبرې معرفي کړې او په همدې موخه، د تاوتریخوالي له منځه وړلو او ټولنه کې د طالبانو ادغام لپاره، د سولې بین‌الافغاني خبرې وړاندیز شوې. له ټولو هڅو سربېره طالبان بیاهم د تاوتریخوالي کمولو څخه ډډه کوي، او د واک ترلاسه کولو لپاره په چریکي مبارزې ټینګار کوي. د ۲۰۲۰ کال لومړیو کې د طالبانو او د امریکا متحده ایالتونو د سولې هوکړه‌لیک د امریکا د ډیپلوماسۍ په پایله کې لاسلیک شو، چې طالبان له افغان دولت سره خبرو کولو ته اړه کړل. د سولې بین‌الافغاني خبرې د ۲۰۲۰ میلادي کال په سپټمبر میاشت کې پیل شوې، خو د افغان دولت او طالبانو

ترمنځ د بندیانو له تبادلې سربېره چې د خبرو د پیلېدو له شرطونو څخه، طالبانو یوازې د دې لپاره چې د خبرو میز کې لوړ لاس ولري، تاوتریخوالي ته دوام ورکړ.

په همدې حال کې، افغان مېرمنې له ډېره وخته هیلې لري، د هغوی یوه تر ټولو لویه اندېښنه دا ده، چې طالبانو سره د « بدې هوکړې» د لاسلیک په پایله کې به د دوی لاسته راوړنو له منځه لاړې شي. که د سولې بین‌الافغاني خبرې د ښځو، بشري، مدني او سیاسي حقونه خوندي او له هغوی څخه ساتنه وکړي، مخ پر وړاندې به مهم واخیستل شي، کني نو له دې پرته، د سولې روانې خبرې تېرو تیارو دورو ته ګرځېدل دي، چې افغان مېرمنو تجربه کړي دي. دا په داسې حال کې ده، چې تېرو دوو لسیزو کې افغان مېرمنو په بېلابېلو برخو له هغې ډلې، د پوهنې او اقتصاد په برخو کې کې د پام وړ پرمختګونه درلودلي دي. داسې حال کې چې دوحه کې د سولې بین‌الافغاني خبرې روانې دي، افغان فعاله مېرمنې له دولت څخه غواړي، چې طالبانو سره د سولې خبرو کې د دوی لاسته راوړنې خوندي کړي، په بله مانا، د ښځو حقونه او جنسیتي برابري د اساسي قانون په اړانه کې د « سرې کرښې» په توګه په نظر کې ونیسي.

د دې موخې لپاره باید یو روښانه میکانیزم جوړ شي، چې ښځې وکولی شي د سولې خبرو په ټولو برخو کې بشپړ او مانادارە ګډون ولري. یوې تلپاتې سولې ته د رسېدو لپاره یوه هراړخیز او پراخ بهیر ته اړتیا ده. د هېوادوالو ټولې څنګ ته کړل شوې ډلې، په ځانګړي توګه ښځې باید د سولې خبرو ټولو پړاونو او له سولې وروسته جریانونو کې ونډه ولري؛ نو هره هغه سیاسي هوکړه به چې په‌کې جنسیتي انډول په پام کې نه وي نیول شوی، قانوني او تلپاتې ونه وسي. ښځې باید د سولې بین‌الافغاني خبرو اصلي محور ووسي.

# منابع


Afghanistan Research Evaluation Unit, "Afghanistan National Development Strategy," *AREU,* https://bit.ly/2JP25zt

Amnesty International UK, "Women in Afghanistan: The Back Story," accessed Novembe 24, 2014. https://bit.ly/3fm0bC5

Akbar, Shahrzad, "Chairperson for Afghanistan Independent Human Rights Commission," in discussion with Hosnia Mohaqqiq, September 12, 2020.

BBC, "Who Are the Taliban?" *BBC,* May 29, 2019. https://bbc.in/3mN6rFD

Dadouch, Sara, George, Susannah, and Lamothe, Dan, "U.S. Signs Peace Deal with Taliban Agreeing to Full Withdrawal of American Troops from Afghanistan," *The Washington Post,* February 29, 2020. https://wapo.st/3lUCL9z

Harrison, Emma Graham, and Mokoii, Akhtar Mohammad, "The Taliban Took Years of My Life: The Afghan Women Living Under the Shadow of War," *The Guardian,* February 9, 2019. https://bit.ly/3fyVzc5

The Islamic Republic of Afghanistan, "National Action Plan for the Women of Afghanistan," *The Government of Afghanistan,* 2007-2017. https://bit.ly/38ovZF6.

Mehrad, Sharifa, "women activist, in discussion with Hosnia Mohaqqiq, November 24, 2020.

Minatti, Wolfgang, "The Challenges of the Afghan Peace Talks," *European University Institute,* September 28, 2020. https://bit.ly/3kHLBpA

O'Reilly, Marie, O'Suilleabhain, Andrea, and Paffenholz, Thania, "Reimagining Peacemaking: Women's Roles in Peace Processes," *International Peace Institute,* June 2015. https://bit.ly/2ILxhiE

Paffenholz, Thania , Ross, Nick, Dixon, Steven, Schluchter , Anna-Lena, and True, Jacqui, "Making Women Count – not Just Counting Women: Assessing Women's Inclusion and Influence on Peace Negotiations," *The Graduate Institute of International and Development Studies,* April 2016. https://bit.ly/3pBSCvY

The United Nations Security Council, "Resolution 1325 (2000)," *UN Security Council,* October 31, 2000. https://bit.ly/35zX0DG

The World Bank, "School Enrollment, Secondary, Female (% gross)," *World Bank Group,* 2020. https://bit.ly/2UerVyW

The World Bank, "Labor Force, Female (% of Total Labor Force) – Afghanistan," *The World Bank,* 2020. https://bit.ly/3lnv4sd

The World Bank, "Proportion of Seats Held by Women in National Parliaments," *The World Bank,* 2020. https://bit.ly/35YgzV4

The Constitution of the Islamic Republic of Afghanistan," *The Islamic Republic of Afghanistan,* January 26, 2004. https://bit.ly/2TS2z9N

UNICEF, "Youth Literacy Rate for 15-24 Years," *UNICEF,* 2018. https://bit.ly/3nehs2X

US Department of Defense, "Enhancing Security and Stability in Afghanistan," *Department of Defense,* June 2020. https://bit.ly/3oWGGEA

Schifrin, Nick, "Graphic Video of Fatal Stoning Shows Taliban's Strength," *ABC News,* January 27, 2011. https://abcn.ws/35WTAtr

میکانیزم حمایت اتحادیه اروپا
از پروسه صلح افغانستان
د افغانستان د سولې څخه
د اروپايي ټولنې د ملاتړ تګلاره

EU AFGHANISTAN PEACE SUPPORT MECHANISM

Civil Society & Human Rights Network (CSHRN)

# WOMEN & PEACE BETWEEN HOPE & FEAR

**Civil Society & Human Rights Network's Research Team**

Sida

Funded by the European Union